# متاثرین او زمونږ ذمه واري

شګفته ملک

سوات، بونېر، دیر او ملاکنډ کښې د روان پوځي اپرېشن له وجې د دغه علاقو نه تر اوسه د دېرش لکو نه زیات خلق بې کوره شوي دي چې د دې وطن د بقا دپاره ئې نۀ صرف خپل ډک کورونه او علاقې پرېښې دي بلکې ډېرو پکښې خپل ډېر نازولي هم د همېشه دپاره بائیللي دي او اوس په ډېر تکلیف او بې وسۍ د خپل کلي کوره بهر په وخت تېرولو مجبور دي. یقیناً دا د دې وطن دپاره د دغه خلقو داسې قرباني ده چې مثال ئې نۀ پېدا کېږي.

د اې این پي د زنانۀ څانګه د اول وخت نه د سوات د مسئلې په حواله خپل فعال رول لوبوي. په دغه حواله دوي وخت په وخت پرېس کانفرنسونه، سیمینارونه، احتجاجونه او نورې هلې ځلې کړې دي.



اوس چې د ملاکنډ ډویژن نه په لکونو خلق بې کوره شو نو هم د اې این پي د ښځو څانګې د هڅوي په مرسته ملګرتیا کښې د چا نه وروستو نۀ وۀ.

مونږ په خپل سر او خپلو ذرایعو د سوات د خوئندو وروڼو دپاره د دوه ټرکه سامان بندوبست وکړو ، آئنده به هم دا سلسله جاري وي، په دغه دوو ټرکونو کښې د کور د ضرورت ټول سامان ؤ چې پکښې د بجلۍ پکې، د ابو کولرې (چې سېد عاقل شاه رالېږلي وو) د دې نه علاوه دزنانۀ او ماشومانو دپاره جوړې کړې شوې جامې، څپلانې او د اخلي پخلي لوښي شامل وو.

چونکې کېمپونو ته د امدادي ادارو توجه ډېره ده نو مونږ سکولونو ته لاړو چې هلته د دغه ادارو توجه نسبتاً کمه ده. مونږ د بکټ ګنج مردان په سکولونو کښې خلقو ته دغه سامان ورسوو او څۀ





چې پاتې شو هغه مو مردان شېخ شهزاد او شېخ یاسین کېمپ کنبې د اې این پې کېمپ ته حواله کړو چې هغوي ئې په خپله طریقه متاثرینو ته حواله کړي. متاثرینو ته د خوراکي ځیزونو سره سره د بسترو او علاج معالجې ډېر ضرورت دے. زمونږ ملګري ډاکټرانو کېمپونه لګولي دي. ما د زنانؤ دپاره اې ډي هیلتهـ سره خبره کړې چې د دوي دپاره ځانله مېډیکل کېمپونه ولګوي او د لیډي هیلتهـ ورکرز او لیډي ډاکټرانو بندوبست وکړے شي.

کېمپونو کنبې د ځنې خاندانونو سره نارینه نشته نو ښځو ته د امدادي سامان دپاره په قطار کنبې ودرېدل وي. پکار ده چې د ښځو دپاره ځانله انتظام وشي. د دې خبره مونږ کړې ده. د دې سره سره دغلته د نارینه پولیس سره سره په مناسب تعداد کنبې وومن پولیس هم پکار دي. مونږ سره د وومن پولیس تعداد ډېر کم دے ،په دې حواله پنجاب زمونږ مدد کولے شي. هغوي سره د وومن پولیس



تعداد ډېر دے. مونږ مشرانو ته وئیلي دي چې د پنجاب حکومت سره خبره وکړي.

د امدادي سامان وړلو او تقسیمولو نه وړاندې د مختلفو کېمپونو سروې پکار ده چې چرته چرته څهٔ څهٔ پکار دي. دغسې به بدنظمي کمه شي او خلقو ته به د خپل خپل ضرورت سامان په سمه طریقه ورسي.

د دې نه علاوه کېمپونو کنبې د ایجوکېشن هم ضرورت دے. د ماشومانو وخت ضائع کېږي، دلته د ایجوکېشن د محکمې چوټیانې دي. پکار ده چې دغه استاذان نهٔ صرف د رجسټرېشن په کار کنبې د دوي نه مدد واخستې شي بلکې دغه استاذان په کېمپونو کنبې د ماشومانو د تعلیم دپاره خپله ذمه واري هم ترسره کړي.

هسې خو زمونږ پارټي او حکومت لګیا دے د متاثرینو دپاره پوره پوره کوششونه کوي، مختلفې ادارې هم خپل خپل کردار لوبوي. خو زمونږ کوششونه په خصوصي توګه د ښځو دپاره دي، د ښځو مسئلې د ټولو نه اهمې دي. پکار ده چې دوي ته خصوصي توجه ورکړې شي.

(مضمون لیکونکې د صوبائي اسمبلۍ غړې، د صوبائي حکومت د سپورټس، کلچر، ټورازم، ارکیالوجي او یوتهـ افئیرز د سټېنډنګ کمېټۍ چئیرپرسن، سرحد اولمپکس ایسوسي ایشن او عوامي نېشنل پارټۍ پښتونخوا نائب صدره ده)